


زموږ د پښتو ادب د پتمنې لارې تکړه شاعر، هیواد پال او خواخوږي ستې ښاغلي اسدالله زمري سره ادبي مرکه

مرکه وال : انجنیر عبدالقادرمسعود

ښاغلی اسدالله زمری د خدای بخښلي حاجي عبدالحمید زوی دی ، پر (۱۳۳۳) لمریز کال د لغمان ولایت په یوه رونې انده کورنی کې زیږیدلی دی . لومړنی زده کړې یې د لغمان په ولایت اوبیا د لشکرگاه په لیسه کې تر سره کړې دي ، لوړې زده کړې یې د کابل پوهنتون د حقوقو اوسیاسي علومو په پوهنځي کې سرته رسولي دې ، او له دغې پوهنځي څخه یې د ماستري دیپلوم تر لاسه کړئ دی .

له زده کړو وروسته، دی په خپل هیواد کې په بیلا بیلو حقوقي ارگانونو کي په ډیره مینه او علاقه سره د خپلو مسلکي کارونو او فعالیتونو سره بوخت ؤ .

ښاغلی اسدالله زمری په جگړه ځپلي هیواد کې د جهادي ډلو ټپلو د خپل منځي جگړو له کبله لکه نور هیوادوال پر (۱۳۷۲) لمریز کال کې له خواږه هیواد نه وتلو ته اړ شو او په

الـمـان کـې کـډوال شـو، اوسـمـهـال دی پـه جـرمـنـي کـې د خـپـلـې کـورنـۍ سـره د پـردیـسـی تـریـخ ژونـد تـیـروي .

لـه (۱۳۵۶ ) لـمـریـز کـال راهـیـسـې شـعـر لـیـکـي او د هـیـواد پـه بـیـلابـیـلـو خـپـرونـو کـې ئـې شـعـرونـه خـپـاره شـوي دي .

د ښـاغـلـي اسدالله زمـري چـاپ شـوي اثـار دا دي :

- لـومـړنـۍ شـعـري ټـولـګـه یـې د ( اوښـکـې اوسـکـروټـې) پـه نـامـه

پـر ( ۱۳۵۶) لـمـریـز کـال کـي د چـاپ او خـپـرونـې د دولـتـي کـمـیـټـې لـه خـوا پـه دولـتـي چـاپـخـونـه کـې چـاپ شـوې ده .

- دویـمـه شـعـري ټـولـګـه یـې (د پـتـنـګ وزر) پـر (۱۳۸۷) لـمـریـز کـال کـې چـاپ شـوې ده .

- دریـم اثـر یـې (پـه افـغـا نـسـتـان کـې داسـاسـي قـوانـیـنـو تـدویـن او د ځـیـنـو حـقـوقـي مـوازیـنـو څـرنـګـوالـي تـه یـوه کـتـنـه) نـومـیـږي ، پـر (۱۳۶۸) لـمـریـز کـال کـې د افـغـانـسـتـان د جـمـهـوري دولـت د مـلـي شـورا د ولـسـي جـرګـې لـخـوا د کـابـل پـه دولـتـي چـاپـخـونـه کـې چـاپ شـوی دی .

- د شـعـرونـویـوه ټـولـګـه یـی د (لـمـبـو کـلـي ) تـرعـنـوان لانـدی پـه دولـتـی چـاپـخـونـه کـې تـر چـاپ دمـخـه د جـهـادي ډلـو پـه جـنګـونـو کـې د دولـتـي چـاپـخـونـې لـه نـورو اثـارو او د وطـنـوالـو د کـورنـو او هـسـتـیـو سـره یـو ځـای سـو ځـیـدلـی ده .

ښـاغـلـی اسدالله زمـری زمـوږ د هـیـواد پـه ادبـي او فـرهـنـګـي ډګـر کـې هـغـه تـکـړه او بـا احـسـاسـه لـیـکـوال او شـاعـر دی، چـې پـه شـعـرونـو کـې یـې د هـیـواد سـیـاسـي، ټـولـنـیـز او کـړکـیـچـن حـالات او مـسـایـل ، تـولـنـیـزې سـتـونـزې ، نـاخـوالـې، نـیـمـګـړتـیـاوې او هـمـداسـې د پـاک او سـپـیـڅـلـې

مینې او ښکلا راز و نیاز، حسن او جمال د طبیعت د مناظرو ښکلا انساني او هنري پیغامونه په ډیر ښکلي او ظریفانه بڼه انځور شوي دي، چې د شعر او ادب مینه وال یې په لوستلو ترینه خوند او پند اخلي او د خپل زړه دردونه، هیلې او ارمانونه پکې لیدلی شي .

د بیلګې په توګه دا بیتونه ګورو چې وایي :

چې فغان ئې له نامه خیبري افغان دی
چې لمبې ئې تل له زړه خیبري افغان دی
چې پیدا په بده ورځ دی بدې ورځ ته
چې ئې مرګ تل په کاله خیبري افغان دی

او یا وایي :

پرون بل وو پکې سره اورونه هر خوا
نن ئې خړ لوګي جګیږي له ګوګله
د دنیا لمن ئې تنګه ده لوی غم ته
د افغان وطن کړ وران هر چا څو ځله

او یا وایي :

نه ځګېرویو آرام راکړ نه سلګیو
عمر تریخ کړ راته دې خړو لوګیو
شپه او ورځ له سوزه کریکې زما خېږي
غربت وریت کړم تناره کې د خواریو

او یا وایي :

یوه شېبه د یار په غېږه کې خوب
ښه خوږ په سل ځلې مرګونه ارزي

له موسکو شونډو نه یې خیال کې بوسه
د شوکرانو په جامونو ارزي
د تنګې خولې د خندا یو لیدل یې
د ټول جهان په سرو ګلونو ارزي
...
او یا وایي :
جانانه راکړه د سر و شونډو پیمانه په مینه
چې کړمه هیره د غمونو زمانه په مینه
د شونډو جام کې دې د مینې شراب راکړه په خوند
د حسن شمعې چې دې شمه پروانه په مینه
راکړه عسل د خوږو شونډو درنه وګرځمه
راته مې ماته کړه د تریخ ژوند زولانه په مینه
مست مې کړه داسې چې خوښیو کې شم ډوب له شوقه
څو درته واوروم د مینې ترانه په مینه
...
او یا وایي :
پسرلی شو، د ګلونو کاروان راغی
د دنیا د بڼ منلی باغوان راغی
څمکې لیری کړه برستن د سپینو واورو
د ویښتیا او پا څیدلو زمان راغی
رنګ او بوی سره سیالي کړي د زړه وړلو

د جنون او زړه بایللو توفان راغی

...

– ښاغلی استاد پوهاند مجاور احمد زیار په خپله یوه لیکنه کې د ده د ادبي او فرهنګي ستې په تړاو داسې وایي :

– (( .... غبرګ زمری له غبرګو ژمنو سره اته دېرش مني او څرمني وشول چې دغه غبرګ زمري (اسداله زمري ) له خپلو غبرګو ژمنو او ارمانونو سره د شعرو ادب ډګر ته رادانګلی، ازما یښتونه او نوښتونه یې سره پکې پرلپسې غاړه غړی کړي او تر اوسني بشپړتیایي پړاوه یې رارسولي دي .

په دې پرمختیایي بهیر کې زموږ د جهل وجنګ ځپلې ټولنې دغه ژمن وارماني شاعر خپل ټولنیز ارمان و پیغام له هنري ارمان و پیغام سره نغاړلي رانغاړلي، په نورو ټکو، د کره کتنې د زر تلې دوه ګونې پلې یې سره ښې ترا انډول کړې او تر ډېره بریده یې له توغ وتوانه بریالی او مخسوری راوتی دی .

په دې لړ کې یې د پښېلو (قافیو) له پښوندیو نه د شعر د ازادۍ تازه ازمېښتونه د همداسې یو پر مختللي پړاو یوه جوته پیلامه ګڼل کېږي .

د لومړۍ ټولګې ((اوښکې او سکروټې)) نوموړی یې د سپینو او تورو اهریمنانو پر وړاندې د یوې نیاومنې ژوند جګړې موخه را زبادوي او له همدې لامَله یې اوروینې د شعر په ترمو اوښکو ورپرېولل غواړي !

زه یې سم له لاسه د خپلو خبرو د لاسوند په توګه د ګران انجنیر صاحب له خوا را چاڼلې نو ښتګر انه

بېلګې بس بولم او پنځګرته يې د لازياتو بريو او برياوو هيله کوم .))

د ښاغلي زيار صاحب د ليکنې پر لاسوند په رښتيا سره چې زمري صاحب د خپل اوچت قلم په وسيله په خپل شاعرانه کلام کې په هيواد کې د سمسور، نيکمرغه، هوسا او سوکاله ژوند په اړه د ټولنيز شعور، ملي فکر، او اخلاقي اړخونو، د اتحاد، اتفاق، ملي يوالي پياوړتيا او ټينګښت ته ژوره پاملرنه کړئ ده .

د بيلګې په توګه د ده دا بيتونه ګورو چې وايي :

مسلمان که مې دی سپين د دواړو سترګو

نو هندو مې دي د دوو سترګو تور

د سني او دشيعه توپير مې نه مونډ

ټول جهان مې پسې وکوت کور په کور

هزاره، ترکمن، بلوڅ، پښتون اوزبک

پنځه ګوتې؛ د يو لاس دي د سوک زور

پشه يي، نورستاني او قزلباش هم

دي زامن د افغان پلار، افغانې مور

...

او يا وايي :

افغانانو چې پرې کړی اتفاق دی

چې ئې سر دی پرې ورکړی تل، نفاق دی

دغه زوړ ترون اوس دی د ماتولو

چې نن وخت د يو کيدو او د وفاق دی

- شاغلی ببرک ارغند زموږ د هیواد ملي، علمي، ادبي او فرهنگي ستره پیاوړی ژورنالیست، نوښتگر داستان لیکونکی په خپله یوه لیکنه کې د ښاغلي اسدالله زمري په اړه داسې وايي :

- (( .... در شرایطی که سرزمین ما در چنبرۀ سیاه ترین ، مخوف ترین و عقب مانده ترین نیروهای تاریخ قرار گرفته است ؛ در شرایطی که مردم افغانستان انزجار و نفرت خود را علیه عقب مانی و سیاه اندیشی جهادی در سراسرِ کشور بی هراس بیان میدارند و دهانی نیست که مملو از درد و رنج بیکران و نفرتِ مردم از حاکمان مزدور نباشد؛ بر ماست تا با محرومان و درد دیده گان همنوا شویم و زنگهای بیداری را بصدا در بیاوریم . جنایتی که بر فرخنده رفت! جنایاتی که همین اکنون در قراء و قصبات و شهر های کشور بر مردم مظلوم ما جاری است! آیا میشود آرام نشست ؟ آیامیشود سخنی نگفت ؟ بی عدالتی دیگر تاب و توان را از مردم ربوده است . دیگر تقابل و رویا رویی با اندیشه و کردار و سیاستهای علمداران جهل و عقب مانده گی در تار و پود مردم ریشه دوانیده است . دیگر با جادو و طلسم و استخاره نمیشود مردم را به خوشبختی رساند ویا جلو طغیان آنان ر ا گرفت . تاریخ بدیلی دیگر از ما میخواهد، بدیلی که سیمای انسانیت و آزاده گی و واراسته گی را بیان دارد و مردم را بسوی سر زمین خوشبختی و سعادت رهنمود شود .

میدانیم که شعرو هنر کوششی دسته جمعی آدمهاست برای بیان راستیها و زشتیها . و آفرینشگران - که سنگهای زیرین آسیا نیزهستند - رسالتی ِارجمند و بزرگ دارند تا با چراغ معرفت تاریکها را آشکار سازند و در بیداری توده های مردم به ویژه

در سرزمینهای تابو زده یی مانند افغانستان کمرهمت ببندند .

ځمه هغه ښار ته چې ظلمت نه وي

زړونه ویریدلې له وحشت نه وي

غوږ چې د چا پزه او غوږ نه کړي څوک

سوی په اور باندې یې میت نه وي

یکی از این شاعرانِ متعهد، فرهیخته و اندیشه مند هم جناب اسدالله زمری است که قلم و اندیشه اش در خدمت مردمش قرار دارد . اشعار این شاعر فرزانه ،پر محتوا ، ژرف و شیرین است . میگویند شعر خوب آن است که از دل بر خیزد و بر دل نشیند . اشعار این شاعر فرهیخته بر دل مانشسته است .

تا جایی که من میدانم از این شاعر ورجاوند تا کنون آثار زیر زینت چاپ یافته اند :

1- اوشکی او سکروتی - مجموعهٔ شعر

2-دلمبو کلی - مجموعهٔ شعر

3- دپتنگ وزر - مجموعهٔ شعر

4- په افغانستان کی د اساسی قوانینو تدوین او ځینو حقوقی موازینو څرنگوالی ته یوه کتنه .))

به جناب اسدالله زمری طول عمر و قلم تواناتر آرزو میکنم .

د ښاغلي ډاکټر ببرک ارغند د لیکنې پر لاسوند په رښتیا سره چې ښاغلي زمري په خپلو شعرونو کې د هیواد پالنې انګازې او د هیوادوالو سره خواخوږي، ټولنیز، سیاسي ، اخلاقي او ملي تصورات ، انساني احساسات او عواطف په ډیر ښکلي انداز سره انځور کړي دي .

د بیلګې په توګه د زمري صاحب دا بیتونه ګورو چې وایي :

سره اوښکه د غم وم چې په مخ د دنیا پریوتم

پرخه د سحر شومه په غرو او صحرا پریوتم

یو سوی فریاد وم له دردمن زړه نه را پورته وم

دود د اوسیلو شومه په مخ د رڼا پریوتم

مات ساز د ماتم وم د ویر کور کې غږیدم غلی

سوز د غمجن زړه شوم په لیمو د ژړا پریوتم

...

او یا وایي :

مدام په خوب او ویښه، ...

یمه لګیا او یو تصویر کاږمه ...

یو بې مثاله تصویر،

چې د هنر او د خلقت یو لوی شاهکار وګرځي،

چې چا تر اوسه لا ایستلی نه وي

د نامرادیو، بدبختیو او غمونو تصویر

د ولږې، فقر، د ژړا او د دردونو تصویر

د بې کوریو تصویر

د جنازو او د هجرت د بې پایانه بهیر

د کړاوونو ،عذابونو او ظلمونو تصویر

په تيارو شپو کې د وحشت او ستمونو تصوير
لاس مې ور اوړد کړ چې قلم را واخلم
زما قلم د شهيدانو د جنډو لرګی وو،
...
چې ورته ومې کتل
دا زما خپل تصوير وو
زما د تن ، زما د ځان ،
زما د ګران او وران وطن
« افغانستان » تصوير وو.

ښاغلی زمری متواضع، زړه سوانده، مهربان، درونند او بې کبره شخصيت دی . دی د خپلو يارانواو دوستانوسره د يومينه ناک انسان په توګه په ډيره پسته او آرامه ژبه غږيږي او د خپلو ملګرو په منځ کې خپل ځای اومقام لري .

د ادب او فرهنګ درنو مينه والو د ښاغلي اسدالله زمري د پوره پيژندګلوي لپاره ما د ده سره يو ادبي مرکه نيولې ده ، هيله ده چې ستاسو ادبي تنده پرې ما ته شي .

زمری صاحب زما سلامونه او نيکې هيلې ومنې . اجازه راکړئ، چې خپلې پوښتنې پيل کړم .

ګران مسعود صاحب مننه، زه هم تاسو او ستاسو په وسيله خپل سلامونه او نيکې هيلې ټولو هيوادوالو او د شعر و ادب مينانو ته وړاندې کوم ، او ستاسو په خدمت کې يم .

- ډيره مننه .

پوښتنه : تاسې کوم وخت په شعر ويلو پيل وکړ، کوم احساس، شوق او مينې دې ته وهڅولئ، چې د

خپلې ټولنې لیکوال او شاعر شوئ، او په دې لاره کې مو څنګه خپل استعداد ته پام شو؟

ځواب : ګران او منلی دوست ښاغلی انجنیر عبدالقادر مسعود ، اجازه راکړی تاسې ته د هغو فرهنګي هلوځلو چې د وطن د ادب او هنر د پیژندلو او ودې په لاره کې یې کوئ ، کورودانی ووایم او لا زیاتی بریاوی مو غواړم .

ستاسې د پوښتنو د ځواب په هکله باید ووایم تر هغه ځایه چې ما د نورو درنو فرهنګي شخصیتونو سره ستاسې مرکې تر نطره تیرې کړئ، ډیر د صلاحیت لرونکو او د ادب او هنر په برخه کې بوختو افرادو ستاسې اکثرو پوښتنو ته تر لازمې څیړنې وروسته مفصل ځوابونه درکړي دي ، زه به د خپلې وسې په اندازه کوښښ وکړم د مطالبو له تکرار پرته خپل نظر ستاسې او د درنو لوستونکو حضور ته مخکې کیږدم .

شعر له یوی خوا د ډیرو ژبو او د هغو له ډلې نه د پښتو ژبې یوه درنه برخه تشکیلوي او انسان له هغه وخته چې په خبرو راځي نو دمورنی ژبې له ټولو شتمنیو نه متاثر کیږي او هغه خپلو مغزو ته سپاري ،شعرونه او منطوم کلام ژر او په آسانی سره حافظې ته سپارل کیږي اوبیا ویل یې هم د نثر په تناسب اسانه وي؛ ښايي د ماشومانو د ځینو لوبو د منظومو او مسجعو کلامونو علت همدا وي ، چې دا موضوع کیدای شي د انسانانو او زما په هکله هم له شعر سره د لمړنی اشنایي او بلدتیا دلیل او علت وګنل شي .

په اصل کې له هغه ځایه چې ښکلا د هنر منبع ګڼل شوئ او له ښکلا سره مینه د انسان د طبعیت یو جزء ګڼل کیږي ، شعر هم د هغو ښکلو پدیدو په قطار کې راځي چې د انسان د ښکلا خوښونی احساس ترې بې تفاوته نه شي تیریدای ؛ له شعر سره زما د مینې د

پیل وخت نشم یاد ته راوړلی خو د کلي ،کور او حجرو اغیزه چې شعرونه، سندرې، منطومې قصې او داستانونه پکې له ټولو بندیزونو سره سره دیوې ژوندی او تلپاتې برخې په توګه ویل او اوریدل کیدې ،پرما هم اغیزه شیندلې ده ،او څه وخت چې مې لیک لوست ته مخه واړوله نو له هغو لومړیو کتابونو نه چې ما په څلورم ټولګي کې ولوستل یو هم د ښاغلی عبدالملک فدا د شعرونو یوه ټولګه وه چې ځینې بیتونه مې ورته تر اوسه هم په حافظه کې پاتې دي . د هغو له جملې نه دا :

چې پری مزی کوي مالدار دا د مزدور وینې دي

چې ظالمان شوه پری تاجدار دا د مزدور وینې دي

دا د اسمان لمنې سرې چې وي سحر مازیګر

نه دی شفق که یې هوښیار دا د مزدور وینې دي ...

له دغې مینې نه علاوه له ځینو فرهنګي حلقو او شخصیتونو سره د ناستې ولاړې او د هغوی تر اغیزې لاندې او په طبیعي ډول د ځوانی د شکلي دوران د ولولو او احساساتو تر اغیزې لاندې مې پر (۱۳۵۶ ) لمریز کال کې خپل لومړنی شعر د هغه وخت د سیاسي او ټولنیز استبداد او انحطاط او د وطن د خلکو د دردونکي حالت په عکس العمل کې ولیکه چې ددوستانو د تشویق او ترغیب په نتیجه کې مې دا سلسله جاري وساتله او کله نا کله د شعر د فرشتې د الهام سره همغږی کیږم او څه لیکم .

پوښتنه : یوشمیر لیکوال او شاعران وایي : (.... ویپونه، غونډونه او غونډلې (کلمې، فقرې او جملې) او په پای کې همغږي، تول وتال، انځور، اند

و واند (خیال و اندیشه)، د شعرو شعروالی لومړنی نښې دي ...) تاسې لید توګه څه ده؟

ځواب : انساني احساسات ،پوهه او قریحه ټاکلي حدود او سرحدونه نه پیژني اوپه ټولو انسانانو کې یو شان نه وي ، نو شعر هم چې زیاتره د انساني احساساتو او عواطفو ښکلی بیان دی هم یو ثابت او د ټولو منل شوی تعریف نه لري، شعر له مختلفو جهتونو،لیدلورو،آندونواو په مختلفو صورتونو او کلماتو تعریف شوئ دی، ستاسې په ګوته شوي عناصر او د شعر د صنعت ټول بدیعي قواعد او قوانین د شعر لپاره ضروري دي خو د ښه شعر لپاره شعریت یعنی د مفاهیمو او مطالبو هنري ا وظریفانه تمثیل اوتصویر،او نوی والی یا نوښت، له زړه ر اختل او په زړونو ناسته او د ټولنی د عمومی احساس انعکاس حتمي ګڼم . زما مقصد د اردو ژبی یو شاعر یوڅه ښه ترسیم کړئ دی چی وایي :

غزل می بندش الفاظ بی نهی کافی + ذرا بی خون جګر چایی یی اثر کی لیی

(د غزل لپاره د الفاظو قطارول کافي نه دي د تاثیر لپاره یې د ځیګر یو څه وینې ته هم ضرورت شته )

زما او د شعر اړیکه داسی ده :

مرورآشنا

لکه اوښکه چې خفه شي له ژړا نه

یا چې بیله خو شحالی شي له خندا نه

یا چې و تښتي له اور ځنې تودو ښه

لکه بیل چې شې څراغ خپلې رڼا نه

یا چې مات شي د مرغه دواړه وزرونه

یا چې ژبه د چا پاتې شي وینا نه

یا سړی چې بې خواخوږی شي په غم کې
نا هیلې چې شي په سخته کې دنیا نه
یا چې ورکه له ځړوبي نه غوغا شي
یا چې څوک کاندي جلا جنون سارا نه
یا چې شا ورکړي پتنګ بلې ډیوې ته
یا بیزار چې شي ګلونه له بورا نه
یا چې مینه له انسانه کډه وکړي
هسې شعر مرور ګرځي له مانه
ځکه خوند مې د ژوند شپو ورځو کې نه شته
چې بیل شوی یم د بدی ورځ آشنا نه

پوښتنه : فلسفي شاعر اقبال لاهوري وایي : (.... د شاعر طبعیت په مینه کې اخښل شوې او د مینې او ایمان په اور کې پوخ شوې دی ...) تاسو په شعر کې ښکلا او مینه څنګه ارزوئ؟

ځواب : سره له دې چې په دې جمله کې د ایمان په مفهوم صحیح پوه نه شوم خو نه یوازې د شاعر بلکې د ټولو انسانانو طبعیت په مینه اخښل شوی دی، همدا مینه ده چې د هنر او ځینو نورو فرهنګي هستونو بیخ اوبه کوي په ښکلا پیژندنه او له ښکلا سره په مینه کې د ویل دورانت په وینا د کفر او شرک څه تومنه شته چې په همدې دلیل د ایمان خاوندان تري بیزاره دي او ورځني تښتي، ځکه مینه او ایمان یو دبل سره مترادف احساسات نه دي خو هیڅ انسان حتی د ایمان خاوندان ورځني بې اغیزې نشي پاتې کیدای او تري خلاصون نه لري؛ خو غواړم دا موضوع د پښتو د ستر فلسفي شاعر غني خان په دی خبره تکمیله کړم چې د شاعر په هکله وایي « د ده مثال د داسې یو حیوان دی چې د

هغه په وجود ځرمن نه وي که بوټي د ازغي ځوکه وروړې نو په کریکو ځان وژني او که بوټي آرام ورشي نو د خوشحالۍ نه بیهوشه کیږي . »

ډیر ځله هغه شعرونه چې ګویا بغاوت پکې لږ څپې ووهي، منلي او تلپاتي شعرونه پیژندل شوي دي لکه د خوشحال خان، خیام ، حافظ،غنی خان ، سلیمان لایق او یو شمیر نورو شاعرانو شعرونه .

د نن ورځې او په خپل وطن او خلکو مینن شاعر ته هم خپل د وطن طبعیت ، اقلیم خلک او هر څه ښکلي ښکاري ،خو د یوه شاعر او «نه شاعر» تر منځ تو پیر په دې کې دی چې شاعر د یوه ډیرحساس مو جود په توګه د هر څه څخه متاثر کیږي او په مقابل کې عکس العمل ښئي ؛ دشاعر رسالت به په دې کې وي چې نه یوازی د ښو او ښکلا او همدارنګه د بدو غیر فعال او بیطرف تماشاچي ونه اوسي . د ستایلو تر خوا د بدو غندل د یوه شاعر لپاره حتمي کار او د هغه د ادبي تعهد یو جزء دی . ما دا خبره په دې شعر کې داسې رانغښتی ده :

مینه اوکرکه

دژوندانه د ترخو زهرو....

له سرو وینو ډک دی!

دزمانی دکړاوونو په منګلو کښې ښکیل،

چې د دی سوی ګوګل تنګ محیط ئې لا ښکیکاږی

ورته حیران یمه زه

چې دی یوه موټی دغوښو اورګونو ټوټی،

ټولی نړۍ نه لا درنه او ستره

له ښو او ښکلو سره،

او له بدیو ځینی

څنګه دا ستره مینه؟

څنګه دا لویه کرکه؟

سره یوکړی او ځای کړی ئې ده خپل زړګي کې؛

پدی وړوکی ځای کې.

ورته حیران یمه زه؛

ورته حیرانه نړی ...

پوښتنه : ویل کیږي : اوسنی شعر د انځورونوشعر دی . تاسې د عیني او ذهني انځورونو په اړه څه لید لرئ، او دا راته وویاست، چې دا انځورونه د شاعر په شاعری څه اغیز لري؟

ځواب : انسانانو د خپلو اندونو ، انګیرنو او معتقداتو د ښکاره کولو لپاره تل هنر او ادب ته مخه کړئ او د دې کار لپاره یې له انځورونو او سمبولونو څخه کار اخیستی دی او هغه یې څه په مادي شکل او څه هم په غیر مادي اشکالو کارولي دي . دا له نورو علتونو نه سربیره په دې علت هم شوي چې سیمبول که یوه کلمه اوحرکت وي او یا یو شکل ، یو مفهوم د هغې له څرګندي او مستقیمې معنې نه یو څه زیات افاده کوي .

انځورونه او سیمبولونه که عیني وي یا ذهني، طبیعي وي یا سنتي او قراردادي، ادبي او هنري هستونو او د هغو له جملې نه شعر ته عمق او که ئې دقیقه ووایو شعریت ورکوي او دا د هغه د ښکلا سبب ګرځي .

پوښتنه : تاسې په شعر کې تشبیه، حقیقت اومجاز، اغراق او مبالغه، استعاره او کنایه، څه ډول څیړئ؟

ځواب : دا ټول د بیان د فن هغه ضروري عناصر دي چې یو ه کلام ته ښکلا ور بخښي او له هغه څخه شعر جوړوی .

پوښتنه : په دې کې شک نه شته چې استاد پوهاند مجاوراحمدزیار د ازاد او سپین شعر د غورځنګ د یو ټولمنلي بنسټوال په توګه د غزل لمن هم د خپلو علمي اوادبي څیړنو له مخې ډیره پراخه کړې ده، د غزل مسرې یې له دوه څپیزو څخه تر اته ویشت څپیزو پورې غزولي دي . تاسې د دې نوښت په اړه څه لید لرئ؟

ځواب : زه د استاد زیار په اثارو او هڅونو د کره کتنې اجازه ځانته نه ورکوم هغه ته د اوږد عمر او لا زیاتو بریو هیله کوم خو هر هغه نوښت چې دوطن د ادب د ودې او پیاوړتیا په مقصد د ادب با صلاحیته مخکښانو او استادانو لخوا تر سره او ومنل شي، زه یې ملاتړ کوم .

پوښتنه : په لره او بره پښتونخوا کې آزاد پاړکي چې سپین شعرونه او بې قافیې شعرونه هم ورته وایي او ځینې کسان یې ((نوي شعرونه)) هم بولي، د لومړي ځل لپاره څه وخت او د چا له خوا په پښتو ادب کې لاره موندلې ده ؟

ځواب : اول خو راځئ چې دا د لر او بر تقسیم چې دقیق نه دی نور لیری وغورځوو ،په پوښتنه کې د مطرح خبرې سپینول د یوې پراخې څیړنې په نتیجه کې کیدای شي خو ځینې د اروا ښاد علامه عبد الحی حبیبي (د کورقاصده راته وایه ) شعر چې پر (۱۳۱۵) لمریز کال کې د هغه د تبعید په وخت کې په طلوع افغان کې خپور شوی دی ، ځینې د اروا ښاد استاد عبد الرحمن پژواک پر ( ۱۹۳۸) زیږدیز کال کې لیکل شوی درامه (کلمه داره روپی) ځینې د ایوب صابر د (زما تصویر) او ځینې د عبد العظیم ساپي د (دا پښتو د پښتونخواد

پښتنوده) شعر چې پر (۱۳۳۱) لمريز کال کې د نيلاب په جريده کې خپور شوی لومړنی ازاد ،سپين ، نوی شعر ګڼي .

پوښتنه : فلسفه، تصوف اوعرفان په شاعری کې څرنګه څيرئ؟ ستاسې په نظر په دغو دری برخو کې کومو شاعرانوخپل ذوق زيات آزمويلی دی او پاملرنه يې ورته کړې ده؟

ځواب : کله چې په پښتو کې د عرفان او فلسفې خبره کيږي ستر وطنپال، فلسفي، عرفاني ، هنري او رزمي شخصيت حضرت بايزيد روښان زما سترګو ته دريږي . دا روښانه خبره ده چې دروښاني نهضت د پيل تر وخته په پښتنو کې عمدتاً په فارسي ژبه ليک او لوست کيده ، دی د پښتو رسم الخط هستوونکی، د زيات شمير کتابونو مولف ، د موسيقي د يو شمير الاتو بشپړونکی ،د پښتو د موسيقي د يو شمير مقامونو جوړونکی ، د ښځو اونارينه و د حقوقو د برابروالي باني او د ظلم او استبداد او د پرديو د سلطې پر خلاف د پښتنو د مقاومت او مبارزې لارښود ؤ، چې فلسفې او تصوف ته يې افغاني يعنې مبارز خصلت ور وباخښه ،چې په خواشينۍ سره پښتنو د هغه د قدر دانی او احترام حق لږ ادا کړئ دی .

وايي چې شعر د فلسفې او علم خلاف ځانګړو او فردي چارو ته پام کوي ،له شعر نه د فلسفې د توضيح او تحليل لپاره کار اخيستل سره له دې چې څه مشکل بريښي خو دا کار له ډيرو پخوا زمانو نه تر سره شوئ او ډير فلسفي افکار په شعر ويل شوي خو عمدتاً فلسفي مسايل زياتره په نثر ليکل او بيان شوي دي خو تصوف او عرفان بيا زيات په شعر . د هيګل خبره چې شعر له ټولو مادي شرايطو نه ځان آزادوي او په دې د نورو هنرونو په پر تله

د روح (چې د عرفان ستره برخه جوړوي) د بیانولو وسیله ګرځي .

د پیر روښان او د هغه د مکتب له پیروانو ،رحمان بابا ،خوشحال خټک نه چې راتیر شو نو هغه څوک چې یې په عرفان او تصوف مشخصه شاعري کړئ خدای بخښلی امیر حمزه شینواری ، ستر فلسفي شاعر غني خان او ښاغلی مجروح دی خو دا نه شو ویلای چې ګواکې نورو شاعرانو په دې برخه کې څه نه دي کړي ،بر عکس د زیاتو شاعرانو په شعرونو کې د تصوف او عرفان او له متاثر شوې فلسفي څخه منعکس شوي مسایل او مطالب شته .

پوښتنه : زموږ یو شمیر لیکوال په دې ګروهه دي، چې د شعر په پرتله باید نثر ته زیاته پاملرنه وشي . تاسې په دې اړه څه لید لرئ او دا راته وایاست خوشال خان خټک لکه څنګه چې پښتوشعر او نظم شکلې او رنګین کړ، همدغسې په نثر کې هم دیوه داسې هنري نوښت بنسټ کیښود چې اوسنی پښتو ادب پرې ویاړي . که تاسې یې له څومره ییز او څرنګیز پلوه پرهنري او ادبي نوښتونو یوه لنډه رڼا واچوئ .

ځواب : دخوشحال خټک موقف او ځای د هیواد په تاریخي ، سیاسي ، حماسي او ادبي برخو کې بیخي ځانګړی دی .

د خوشحال خټک د هنري ، ادبي او علمي نو ښتونو څیړل د یوې مصاحبې له حوصلې نه ډیر او چت دی خو په لنډه توګه ویلای شم چې خوشحال خټک که د پښتو په اخلاقو او کلتور څه لیکلي ، یا یې دبزم او یا د رزم خوا ته مخه کړئ او یا یې په علمي او څیړنیزو چارو پلټنه کړئ د مضمون او محتوا او د شکل، ښکلا او هنرې کیفیت له پلوه یې بیخي استثنایي ځای خپل کړئ دی ؛ د خوشحال خټک سبک

دومره پياوړی ؤ چې د ډيرو معاصرو شاعرانو په شعرونو کې يې اغيزه په پوره وضاحت ليدلای شو . په دستار نامه ،فضل نامه، بازنامه ، طب نامه ، او د شعر په مختلفو فورمونو کې د هغه ادبي ترکيبونه او بديعي صنايع له اندازې زياتې ښکلې دي . د پښتو د سوچه کلماتو له خوندي کولونه چې تير شو د هغه په ټولو اشعارو او ليکنو کې د پښتني روح او ځانګړنو ډيرې بې مثاله نمونې ليدل کيدای شي چې يوازې خوشحال خټک ته منحصرې دي او بل څوک يې د سيالۍ نه دي پيدا شوي .

خو نن د شعر او د نثر زياتو او کمو ليکلو په هکله موضوع د خوشحال خټک له ادبي او هنري کړنو څخه بيخي بيله موضوع ده . شعر د عاطفي احساساتو د غليان پايله ده او دا چې د شعر فرشته دچا په اوږو لاس ږدي او د شعر ويلو ته يې اړ باسي معلومه نه ده ؛ دا سړی ممکن يو نا لوستی او يا کم لوستی انسان وي او ډير ښه او ښکلی شعر ووايې ؛ خو د نثر خبره بيا داسې نه ده ، تحقيقي او علمي ليکنې وي او يا که هنري او ادبي او يا نورې ، د ليکلو د موضوع په هکله لازمه پوهه او معلومات غواړي او هم بايد په ليکوال کې د ليکلو قريحه موجوده وي . خو هغه څوک چې لازم او ضروري صفات او مميزات ولري کولای شي چې نثر وليکي خو دا کار څوک پر چا تحميلولای نه شي . دا هم بايد له پامه ونه غورځوو چې د ښه شعر د ليکلو لپاره د شعر د صنعت پر اصولو پوهيدل او د لازمو علمي معلوماتو درلودل هم ضروري دي .

د شعر د زياتوالی يو علت ښايی دا وي چې شعر تر نثره مسووليت ته کمه غاړه ږدي خو له بده مرغه « نه شعرونه » يو څه زيات شوي دي او دا کار لکه چې ځينو موسيقي ته د ابتذال نيزې ورسيځې کړي شعر هم بې حيثيته کوي .

ښه به وي چې د دې وضعې د له منځنه وړلو له پاره د کره کتنې او انتقاد برخې ته وده ورکړل شي .

پوښتنه : ستاسې په اند د يو شاعراو ليکوال ښکلايز او بې ساري تصويرونه، مسته مينه، عاطفي انځورونه، منطقي تفکر، ژوره انديښنه اوعقلاني خوځون د زوريدلو انسانانو اوهيوادوالو په راويښولو او راپارولو کې څه اغيز ښيندلای شي؟

ځواب : مبارز شعر چې د ټولنيز و ناخوالو په مقابل کې د عکس العمل کريکه ده اصلي او اساسي هدف يې هماغه دی چې تاسې په خپله پوښتنه کې مطرح کړئ ، مشهور ليکوال ماستر عبدالکريم د استعمار ګرو پر ضد او د ولس د راويښولو په موخه ويل شوی د حماسي اشعارو څښتن ته د عسکر او سر تيري نوم ورکوي ؛ خو له شعر نه د انقلاب کولو توقع درلودل به ډير پرځای نه وي .

ټول هغه څه چې تاسو په خپله پوښتنه کې ياد کړل د يوه ښه شعر د هدف اجزا دي، خو له هغه نه برسيره د وخت ، ځای او حالت په نظر کې نيول او د شعر معقوله او پر ځای استفاده کيدای شي په دې برخه کې موثره وي ؛که چيرې د ملالۍ لنډۍ په يوه حجره کې ويل شوې وای اوس به د تاريخ جزء نه وه ، ځينې وختونه يو لنډ شعر تر يوې اوږدې مقالې او وينا زيات پارونکي او هڅوونکي وي .

شعر د مغلقو سياسي اصطلاحاتو او ترمينولوژي په ورنې کې پيچل هغه له شعريت نه اوشعر ته ډير زيات پيچلتيا ورکول هغه د پرګنو د درک له سطحې نه باسي ،هغه شعر چې د خلکو په ژبه وويل شي (خو شعريت هم ولري) او د ځوريدلو انسانانو په غوږونو او مغزو په اسانۍ ورننوځي کيدای شي دا دنده په سمه توګه تر سره کړي، له ښه مرغه زمونږ په ټولنه کې مبارز شعر چې له خوشحال خان نه

وروسته د خپلواکۍ غوښتنې له نهضت سره پيل شوي وُ په دې وروستيو دوه درې لسيزو کې د پاملرنې وړ وده کړې ده او خپله دنده يې په دې برخه کې په ښه توګه تر سره کړې ده ، سر بيره پر دې شعر د پاڅون او مقاومت او يا د مبارزې د روحيې او د هغې د پياوړتيا لپاره هم غوره رول لوبولی شي خو په پوښتنه کې مطرح شوی مقصد يوازې د شعر په وسيله نشي تر سره کيدای او نور عوامل هم ورته ضرور دي .

پوښتنه : يوشمير ليکوال او شاعران په دې ګروهه دي : (....چې د ښه شعر ځانګړتيا ښه تصوير نه بلکې د هغه ښه ژبني بيان دی ...) تاسې په دې اړه څه ليد لرئ؟

ځواب : زه هم د کاظم خان شيدا سره همغږی يم چې د شعر مضمون ته په زيات اهميت قايل وُ او ويل يې چې :

مضمون د شعر لکه پيکر وي
رنګين الفاظ يې رخت و زيور وي
ورته ضرور دي دا دواړه خيزه
پيکر که هر څو دلرباتر وي

تصوير او ښه ژبنی بيان د ښه شعر لپاره دواړه حتمي دي خو زه د مضمون نوی والی او د يوه پيغام درلودل هم ضروري ګڼم .

بې له تصويره او ښه ژبني بيان نه، يوه ليکنه شعر نه دی . خو هره ليکنه (شعر وي او نثر) نه ښايي چې يوازې د شاعرانو او ليکوالو له پاره و ليکل شي، هغه ليکنه او هغه ژبه ژوندی پاتې کيږي چې خلک پرې وپوهيږي او وړغيږي ، زه په خپله له بده مرغه د ځينو درنو ليکوالو او شاعرانو په پښتو نه پوهيږم .

پوښتنه : تاسې په شعر کې تاريخي اسطورې چې د يو ملت د افسانوي ژوند مفاهيم څرګندوي څه ډول ارزوئ؟ او دا راته وواياست چې د کومو شاعرانو په شعرونو کې د انساني او فطري اساتيرو مفاهيم خپل ځانګړې ځای او مقام لري؟

ځواب : اسطوره يا لرغوني روايات چې د انسان د ناخود آګاه تلپاتې انعکاس دی ، د ورستيو شاعرانو او د دې برخې د عالمانو له پاره د مطالبو د اظهار له پاره يو سيمبوليک بيان دی او شاعرانو له دې وسيلې يا طريقی نه ښه ګټه اخيستې ده . دې پوښتنې ته نورو درنو اديبانو چې تاسې ورسره مرکه درلوده په تفصيل دقيق ځوابونه ورکړي خو زه په لنډه توګه وايم چې :

انسان خپله يوه اسطوره دی هرچا چې انسان ته شعر ليکلی او يا يې انسان ته د يوه مطلب د شاعرانه افادې له پاره له دې شکلي بيان څخه کار اخيستی ، خپل شعر ته يې ښکلا ورکړې او د خپل ځان او شعر د اسطوره کيدو له پاره يې هڅه کړې ده؛ دا کار ټول شاعران کوي خو د هغو شاعرانو چې انساني او فطري اساتير يې په شعر کې ځانګړی ځای او مقام لري يوازې د نومونو په ذکر نه شي افاده کيدلای د دې کار له پاره بايد د هر يوه شاعر هستونې په مشخصه توګه د همدې موضوع په اړوند و څيړل شي . خو که خبره ساده کړو کيدای شي منظوم داستانونه د دې ډول شعرونو يوه ابتدايي بيلګه وګڼو .

پوښتنه : ستاسې په شعر کې کوم ډول خيالي انځورونه، عاطفي فکتورونه، ملي او وطني پيغامونو او تعهدونو، هنري ځانګړتياوې او د نويو ترکيبونو، ښکلايزو څپې او جوړښت زياتره انعکاس موندلی دی؟

ځواب : هر انسان د خپل چاپیریال نه متاثر کیږي ، ما چې څه له خپل رنځیدلي وطن او دردیدلو خلکو نه اخیستي، لیدلي او احساس کړي هغه مې منعکس کړي دي، پریږده چې درانه لوستونکي زما د لیکنو په هکله په پوښتنه کې یاد شوي مسایل وڅیړي .

پوښتنه : یو شمیر شاعران د خپلو ټولنیزو عقایدو پر بنسټ په خپلو شعرونو کې د ټولنیزو پیغامونو لپاره د رومانتیکو انځورونو اوسیمبولونو په مټ د هومانیېزم هاندوهڅې کوي . تاسې لید په دې اړه څه دئ؟

ځواب : په دې کار کې هیڅ کومه غلطي او یا نقص نه وینم .

پوښتنه : په پښتو ادبیاتو کې دودیز منظوم ځېلونه (غزل، پاړکي ، بوللې، څلوریزې، دو بیزې ...) او بیا نومهالی ( آزاد ، سپین او ناپېیلی یا منثورشعر) څه تویپر لري؟ که یوه ځغلنده رڼا پرې واچوئ!

ځواب : زه له شاغلی سلیمان لایق سره همغږی یم چې وایي :« د شعر هر نوی نسل د زاړه نسل زوی دی، ر ښتیانی شعر د دود او ابتکار یو ترکیب دی . په ولاړو ټولنو کې عنعنه پر شعر باندې مسلطه وي خو په خوځنده ټولنه کې ابتکار د شعر واکمن وي : د نوي شعر په پلمه د زاړه شعر له تجربو څخه مخ اړول یوه ګمراهی ده » د نوي شعر توپیر یوازې په شکل او فورم کې دی چې کیداې شي د یاد شوو ډولونو په قطار کې ودرول شي .

کیدای شي یو شعر په نوي شکل او فورم لیکل شوې وي خو که یې مضمون او محتوا تکراري او زړه وه، نو نوی شعر ورته ویلای نه شو .

پوښتنه : سربیره پر دي چې په لره او بره پښتونخوا کې یو شمیر درنو او پخو لیکوالو او شاعرانو پر ځینو تقلیدي شاعرانو خپلې ځیړنې کړي دي خو بیا هم زمونږ په ټولنه کې یو شمیر شاعران وینو ، چې د تقلید په پله روان دي تاسي د یو شاعر او ادبي سټې په توګه دا نیمګړتیاوې څرنګه څیړئ، او د دغو نیمګړتیاوو په اړه ځوانو شاعرانو ته کوم وړاندیز او لارښوونې لرئ؟

ځواب : د نورو شاعرانو او لیکوالو د اثارو مطالعه او له هغوی نه د افاقي معلوماتو، د لغاتو د ذخیرې او ذهني زیرمې په توګه کار اخیستل یوه ضروري او حتمي موضوع ده، چې هر سړی ورته اړتیا لري او همدارنګه په شاعری کې ځانته د یوه مستقل سبک ایجادول د ټولو له وسعې پوره نه ده نو کله چې څوک د نورو اشعار ولولي په طبیعي توګه یې تر اغیزې لاندې راځي ، په هماغه سبک او شیوه د شعر لیکل کوم عیب نه دی خو د بل چا د شعر کاپی ، د کلماتو په وړاندی وروسته کولو ، د مضمون کاپي کول ، د تیاری قافیې ، ردیف او روی نه ګټه اخیستل ، د نورو د اشعارو استقبال ، ځواب او تضمین د شاعر د ابتکار توان وژني اوحتی شعر یې له شعریت نه باسي، دا کار د دې باعث شو چې حتی نوموتو شاعرانوته هم د «دزد سخنوران » لقب ورکړل شي .

شاعر د شعر ویلو په وخت کې کله داسي د الهام تر اغیزې لاندې راځي چې وروسته خپل شعر له سره ولولی ممکن ورته دا سوال پیدا شي چې دا د چا لیکنه ده لکه حمزه صاحب چې وایي :

چې خپل غزل له چانه واورم حمزه وایم
چې چا هسی وینا کړی ده

نو بهتره به وي چې له نورو نه يې زده کړو خو خپل شعر خپل په قلم او سياهی وليکو .

پوښتنه : تاسې د ادبي نقد او کره کتنې او د ادبي او فرهنګي مرکزونو د جوړولو په اړه په هېواد کې د ننه او بهر، چې د نورو ادبي ځانګوالو تر څنګ واکيالي (باصلاحيته) ځانګپوه کره کتونکي غږيتوب و لري، څه ليد لرئ؟

ځواب : دا کار حياتي بولم ، خو راځی چې لکه شعر ليکل کره کتنه هم عامه کړو.

پوښتنه : يو شمير شاعرانو او ليکوالو د خپلو څيړنيزو اونوښتګرو کارونو او فعاليتونو لپاره د بهرنيو ليکوالو آثار او شعرونه ژباړلي دي . ستاسې پر اند د بهرنيو آثارو ژباړه او يا زموږ د آثارو ژباړه په نورو ژبو کې د پښتو ادب و فرهنګ د ودې او پرمختګ لپاره څه اغيز ښندلای شي؟ او دا راته وويابست چې تاسې پکې ونډه اخيستې ده او که نه؟

ځواب : د ادبي او فرهنګي راکړې ورکړې مسأله نه يوازې د ملتونو تر منځ بلکه د افرادو تر منځ هم د افغاني ادب او فرهنګ د ودې لپاره ډېره اغيزمنه او ضروري ده ، له يوې خوا د دې تبادلې په نتيجه کې نړيوالو ته زمونږ فرهنګ ورمعرفي کيږي او له بلې خوا د نورو له ادبي او فرهنګي هستونو سره زمونږ د ليکوالو او شاعرانو پيژندګلوي او له هغوی نه ګټه اخيستنه زمونږ د ادبياتو او فرهنګ په غنا کې موثره ونډه درلودی شي .

اوس چې له ډيرو خواوو له فرهنګی يرغل سره لاس او ګريوان يو، د يوې معياري پښتو د رامنځته کولو پر ځای د سوچه کولو او د نويو اصطلاحاتو د جوړولو پسی ډير ګرځيدل او د ژبی

مغلقول به مو خدای مکړه خوږه پښتو د دی یرغل په مقابل له ماتې او ورکیدو سره مخامخ کړي .

په خواشینی سره چې ما تر اوسه د ژباړی په برخه کی ځان نه دی ازمویلی .

پوښتنه : تاسې د هیواد په اوسنیو سیاسي، تاریخي او کړکیچن اکر بکر (حال احوال) کې د ننه د بهر د شعر او لیکوالی اکر (وضیعت) څرنګه څیړئ، شاعرانو او لیکوالو ته په دې اړه څه وړاندیزونه لرئ؟

ځواب : زمونږ هیواد له ډیري پخوا نه د یوه وروسته پاتې ساتل شوي هیواد او په دې وروستیو کې د خونړی جنګ او د پردیو د سلطې په تورو پنجو کې شکیل دی ، نو زمونږ لیکوالی او شاعری هم له همدې وضعې نه متاثره ده .

ما په اینترنیت کې یوه لیکنه ولوستله چې ډیره مې خوښه شوه او غواړم چې له تاسو سره یې شریکه کړم وایې چې یو ځای اور واخیست، یوې کوچنی مرغی په مشوکه کې اوبه راوړلې او پر اور یې اچولې ، چا ترې پوښتنه وکړه چې ستا دا یو ځاځکی اوبه پر دې ستر اور څه تاثیر ښیندلی شي؟ هغې ورته وویل چې هلته مې ملګری بند پاتې دی، زه غواړم چې کله له ما نه پوښتنه کیږي چې په هغه وخت کې چې د ملګری په اور کې بند پاتې وُ تا یې د خلاصون د پاره څه وکړل؟ د بې ځوابی له کبله خجالته نه شم .

اوس چې زمونږ وطن او وطنوال په اور کې سوځي هر اقدام که ډیر کوچنی هم وي، مونږ د بې ځوابی له خجالت نه باسي .

په شعرونو او ليکنو کې د وضعې عيني انعکاس ، د جنګ ناولی توب او دسولې ضرورت، اهميت او ارزښت منعکسول ،او د بدو او مردودو پديدو رټل د فرهنګي او ادبي ناستو غونډو، ټولنو جوړول او د سولې لپاره هر ډول ګام اخيستل کيدای شي په دې اړه خپل موثريت وښئي .

پوښتنه : ستاسو پيغام د يو شاعر او ليکوال په توګه هغه ځوانانو ته، چې په هيواد کې د ننه او بهر پر ادبي او فرهنګي فعاليتونو سره بوخت دي څه دی؟

ځواب : د وطن خدمت هغه مقدسه او ستره دنده ده چې هڅوک نه شي تري منکريدای . افغاني کلتور او ادب ته خدمت د دې سترې دندې يوه برخه ده . زمونږ ځيني ځوانان ډير پاخه شاعران او ليکوالان دي ، د ملي يوالي د ټينګولو او د ولسونو او پرګنو تر منځ د بدبيني او کينې د راپارولو پر ضد د يو شمير پوهو او د عالي احساس او درک درلودونکو ځوانانو هڅې او همدارنګه د اينترنيت د جال نه په ګټه اخيستلو سره د وطن د ادب او هنر په خپرولو او پيژندنه بوخت دي .

زه ټولو درنو او د وطن په درد درديدلو ځوانانو ته په دې د قدر وړ کار کې د لا زياتو برياليتوبونو هيله من يم .

په ډير درنښت او ادبي مينه : انجنيرعبد القادرمسعود